# سوله د سيمې دپاره

# ګډ سيمه ايز کانفرنس

پښتون رپورټر

د نومبر په ديارلسمه نېټه د سولې د کاروان په توګه د څلوردېرشو تنو يو وفد "د سيمې دپاره ګډ سيمه ايز کانفرنس" کښې د شرکت په غرض افغانستان ته لاړو، په وفد کښې شاعران، اديبان، صحافيان، ډاکټران او د مختلفو پارټيو نمائندګان شامل وو.

په څوارلسم تاريخ سحر نهٔ بجې د انټرکانټيننټل هوټل په لوئے هال کښې د کانفرنس پرانسته محترم قاري عبدالواسع صاحب د قرآن عظيم الشان د بختورو آيتونو څخه وکړه، د سټېج د وړومبي نشست فرائض ښاغلي عبدالغفور لېوال ادا کړل، د څو خبرو نه پس د افغانستان د اسلامي جمهوريت ملي سرود په ډېر درناوي او احترام واورېدے شو.

عبدالغفور لېوال وضاحت وکړو چې دا غونډه د کوم غرض دپاره راجوړه شوې او چا راجوړه کړې ده، په دې غرض ئې څو د خوند او ګټورې خبرې وکړې.

ورپسې فراحي صاحب چې د سرحدونو د چارو وزير دے، د رئيس جمهور محترم حامد کرزي د دغې غونډې په اړه د هيلو او امېدونو نه ډک پېغام واوروؤ. په پېغام کښې د دغسې سودمندو غونډو په راجوړولو زور ورکړے شوے ؤ.

وروستو حميد ځاځي د کانفرنس د اغراضو او مقاصدو بيانولو سره سره د غونډې دپاره د کار د طريقو وضاحت وکړو.

د نتيجې په توګه چې دغه غونډه د کوم مقصد دپاره راجوړه کړې شوې وه، د هغې د نور ډېر وضاحت نه پس ئې د دربو غټو غټو مسئلو طرفته د حاضرينو خيال راوګرځوو او وئې وئيل چې مونږ به د مسئلو د يادونې دپاره په يوه طريقه کار دننه اغاز د دې نه کوو چې زمونږ د دوو هېوادونو افغانستان او پاکستان دننه مسئلې څهٔ دي؟

نو دې ته ئې د دربو لويو لويو عنواناتو انتخاب داسې کړے ؤ:

1- مسئلې څومره دي او څهٔ څهٔ دي؟
2- د مسئلو وجوهات څهٔ دي؟
3- او د دې حل څهٔ او څنګه ممکن دے؟

حميد ځاځي ووئيل چې په دغو دربو مسئلو به د هال دننه ټول د فکر او رائې خاوندان اول په دوو لويو ګروپونو کښې ووېشو، يو ګروپ چې د اېکېډمک عالمانو او پوهانو دے، دا به د دغو

مسئلو جاج په اېکېډمک انداز کښې واخلي او دوېم ګروپ چې د شاعرانو، اديبانو، صحافيانو، سياست دانانو او پوهانو دے، دا به ئې د مدني نقطۀ نظره جائزه واخلي، دغه دواړه لوئے لوئے ګروپونه به په ځلورو ځلورو ګروپونو کښې تقسيم کړو، دا به په نخښه کړې شوې مسئلې د مثال په توګه مسئلې څۀ دي؟ څۀ وجوهات لري او حل ئې څۀ دے؟ د بحث لاندې راولي او په يو اتفاق رائې به هغه وليکي او بيا به دغه د ځلورو ګروپونو رائې د خپلو خپلو ګروپونو نمائنده کسان په سټيج پېش کړي او د هال د خلقو د سوالونو جوابونه به ورکړي.

هم په دغه طريقه اولنے، دوېم، درېم او ځلورم ګروپ د مسئلو موجودګي، د هغې وجوهات او د هغې حل چې د خپل خپل خيال مطابق څنګه څنګه ليکلي وو او څۀ سوالونه پرې د هال د موجودو خلقو له خوا راتلل، د هغې ډېر په زړۀ پورې جوابونه ورکړې شو.

دغه طريقۀ کار د درې واړو ورځو په ټول پروګرام کښې تر هغې روان ؤ څو چې په اخري ورځ د دواړو لويو ډلو يا ګروپونو شريکې يا ګډې نتيجې لاس ته نۀ وې راغلې. دغه د خورو ورو ګروپونو د کاوشونو نه چې څۀ نتائج په لاس راغلۀ، دا واپس د دواړو لويو ګروپونو په شريکو کاوشونو کښې شامل کړے شو او په اخره کښې د يو شريک لائحۀ عمل دپاره د يو شريک کار نتيجې راټولې کړې شوې او د يو ګټور پروګرام په څېر دغه غونډه په پوره اطمينان سره سرته ورسېده.

د ټولو ګروپونو په مسئله، وجوهاتو او حل کښې چې کومې غټې غټې خبرې د بحث لاندې راغلې، په هغې کښې د امن مسئله، د هر ګروپ په نظر کښې وه. په نورو مسئلو کښې بې روزګاري، غېر ملکي مداخلت، په ډېر تعداد کښې د وسلې موجودګي په نخښه کړې شوي وو، په وجوهاتو کښې غربت، د اېرېشنونو غلط استعمال، جهالت، بې تعليمي، د پښتون د يو وجود په څو برخو کښې تقسيم، د مرکزي قيادت نشتوالے، قومي او مذهبي دواړه د غېر ملکيانو موجودګي، د جرګې سسټم کمزوري کول، د اسټېبلېشمنټ غېر جمهوري کردار شامل وو.

د دې ټولو کړمو سمون د ټولو مسئلو د حل نشان دهي کوله، دغسې دغه درې ورځنے کانفرنس په ډېرو ګټورو بحثونو او د مسئلو په ګوته کولو په ډېر دوستانه ماحول کښې اختتام ته ورسېدو.

د دې ځائے د وفد دپاره چې رئيس جمهور د ډوډۍ کوم پروګرام کړے ؤ، د هغې په تقريب کښې د وفد له طرفه حبيب جالب خبرې وکړې او په جوابي خبرو کښې رئيس جمهور ښاغلي حامد کرزي د وفد غړو ته د هرکلي نه پس د دواړو غاړو د مشکلاتو او پېښو مسئلو د تفصيلي ذکر سره سره طالبانو ته د خبرو اترو د پېشکش خبره هم راغبرګه کړه او د دواړو غاړو د اولسونو نه ئې طمع توقع ظاهره کړه چې مونږ به سره په شريکه د امن د خواهش سره د جرګو د لارې نه په دې مشکلاتو قابو وموندے شو.